د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د کندهار ولايت د پوهنې رياست

د کېفيت د تضمين آمريت




# د کندهار ولايت د عملياتي پلان د کړنو د پرمختگ کلنی تشريحي راپور

د راپور ورکولو دوره: له ۱۴۰۳ هـ ش کال د حمل مياشتې څخه تر حوت مياشتې.

## د مطالبو نوملړ


د ځلورمې ربعې/ کلني تشريحي راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........................ 1

د کندهار ولايت په هکله عمومي معلومات ........................ 2

د کړنو لنډيز ........................ 4

د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملياتي پلان د کړنو پرمختګ ........................ 7

لومړی برخه: کېفيت او تړاو ........................ 7

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........................ 7

۲. اسلامي زده کړې ........................ 9

۳. د کېفيت تضمين ........................ 10

۴. سرچينې او اداره ........................ 12

۵. د پوهنې رياست اړوند فعاليتونه (نشرات، تفتيش، مخابره، پلان او نور) ........................ 14

دويمه برخه: انډوليز لاسرسی ........................ 15

۱. ښوونه او روزنه ........................ 15

۲. اسلامي زده کړې ........................ 18

3. سرچينې او اداره ........................ 19

۴. د پوهنې رياست اړوند فعاليتونه (نشرات، تفتيش، مخابره، پلان او نور) ........................ 21

3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ويونکې مديريت ........................ 21

۱. ښوونه او روزنه ........................ 21

۲. اسلامي زده کړې ........................ 23

3. سرچينې او اداره ........................ 24

۴. د پوهنې رياست اړوند فعاليتونه (نشرات، تفتيش، مخابره، پلان او نور): ........................ 26

د غير پلاني فعاليتونو او لاسته راوړنو برخه ........................ 28

تحليل او پايلې ........................ 29

د پام وړ ستونزې او وړانديز شوې حل لارې ........................ 57

مالي رپوټ تحليل ........................ 58

ملپانې ........................ 59

# د څلورمې ربعې/ کلني تشریحي راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورني نوم | دنده | بريښناليک | گرځنده شمېره، اووتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي ولي محمد(شهاب) | دتضمین کیفیت آمر | بریښنالیک نلري | 0705560055 | |
| مولوی محمد اکرم شاه اغا | دښوونې او روزنې آمر | بریښنالیک نلري | 0707102882 | |
| مولوي نیک محمد(نقشبندي) | دمنابع او اداري آمر | بریښنالیک نلري | 0705491055 | |
| مولوي احمدالله (احمدي) | داسلامي زده کړو آمر | بریښنالیک نلري | 0700078824 | |

دپوهني درئیس تاییدي:

| نوم او کورني نوم | دنده | بريښناليک | گرځنده شمېره،اووتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي فخرالدین (نقشبندي) | کندهار ولایت دپوهني رئیس | بریښنالیک نلري | 0703997478 | |

## د کندهار ولایت په هکله عمومي معلومات

کندهار ولایت دافغانستان جنوب غرب ولایتونو له جملې څخه ده چې د افغانستان د لویو تا ریخي مرکزونو څخه شمیرل کېږي. مرکز يې خپله د کندهار ښار ده. د مرکزي احصائې د ارقامو له رویه د نوموړي ولایت ټول نفوس دوه میلیونه تنه تخمین شویدی چې ددې جملې څخه يې تقریبا نیمایي برخه ښځینه تشکېلوي.ښووني او روزني خدمتونو ته لاسرسي پرمختګ کړی، اما دا خدمتونه په ټولو ولسوالیو کې يو شان ندي.

په نوموړي ولایت کې ۲۲ سلنه خلک په ښاري ساحو کې او ۷۸ سلنه په اطرافو کې ژوند کوي.

### جغرافیا:

کندهار ولایت د (۵۴۰۲۲) کیلومتره مربع مساحت لري، چې ددغه ولایت شمالي خوا ته ارزګان، سویل او سوېل ختیځ خواته د پاکستان له بلوچستان ایالت، د شمال ختیځ لخوا د زابل ولایت او لوېدیځ لوري ته د هلمند ولایت سره سرحدات لري له جغرافیایی اړخه د کندهار ترټولو ستره ولسوالی د ډنډ ولسوالی ده چې د بهرني هیواد پاکستان سره نژدې د ډیورنډ پرفرضي کرښه باندې پرته ده. کندهار ولایت د مرکز په ګډون (۱۷) ولسوالی لري، چې عبارت دي له دامان، ارغنداب،شاولیکوټ،خاکرېز،نېش، میانشین، غورک، ښورابک، ریګستان،معروف، ارغستان، تخته پل، بولدک، ژړی، پنجوائي، میوند او ډنډ ولسوالی څخه.

### تعلیم او تربیه:

کندهار ولایت په خپل تشکېل کې د پوهنې په برخه کې هم خپلو ځوانانو ته د زده کړې زمینه برابره کړیده چې ټولټال ۴۷۸ بابه دولتي ښوونځي لري.

د ۴۷۸ بابه ښوونځیو دجملې څخه ټولټال ۹۱ لېسي، ۸۳ بابه متوسطې او جمله ۳۰۴ بابه لمړنی ښوونځي دي.

کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند (۲) بابه د سواد حیاتي مرکزونه،(۱) باب د ښوونکو د روزنې مرکز او په مربوطه حوزو کې (۷) بابه د ښوونکو د روزني حمایوي مرکزونو شتون درلود چې فعلاُ ټول غیرفعال ښودل شوي دي.

کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند د ښووني او روزني برنامې ترچتر لاندې په دولتي ښوونځیو کې ټولټال ۲۶۳۳۶۲ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې د دې جملې څخه ۱۷۳۳۰۱ تنه هلکان او ۹۰۰۶۱ تنه يې نجوني دي، همداشان په یاد ولایت کې ۸۵ بابه خصوصي ښوونځي شتون لري چې ټولټال۱۶۸۹۴ تنه زده کوونکي لري چې د دې جملې څخه ۱۲۸۷۹ نارینه او ۴۰۱۵ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدالله رب العلمين و الصلوة و السلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين. اما بعد:

د کندهار ولایت د ۱۴03 کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کېفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکې مدیریت) کې جوړ شوي دي او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړوندي ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته ښه والې ور وبخښي.

دکندهار ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴03 کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د درې عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکې دی.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاړو برخه

## لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

## .1 کیفیت او تړاو

### .1 ښوونه او روزنه

- د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو لخوا د ۴۸ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو څخه د لابراتوارونو او کمپیوټرونو د اغیزمنتوب په موخه سروې ترسره شوې.
- د انکشاف مسلکي علمي غړو له لوري ۵۰ تنه ښوونکو او مدیرانو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې روزنه ورکړل شوه.
- د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو لخوا ۱۲۰ تنه ښوونکو ته د ریاضي او ساینس په برخه کې تجربوي ورکشاپ ورکړل شو.
- د سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکز او 10 ولسوالیو کې 55 نفرو ته د سواد زده کړې د پروګرامونو د ښه تطبیق او همدارنګه د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي کولو په هکله روزنیز ورکشاپ په لاره واچول شو.

### .3 اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند (جوادیه) باب دیني مدرسې دارالعلوم ته ارتقاء کړې ده.
- په مرکز او ولسوالیو کې د مدرسو، دارالعلومونو او دارالحفاظونو څخه ټولټال ۱۴۳۷۲ تنه علماء کرام په شته ډیټابیس کې ثبت شوي دي.

### .3 کیفیت تضمین

- د نتایجو مدیریت لخوا د ۹۲ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۹۶۷۱ شهادتنامې ترتیب او د اړوند مراحل ترسره شوي دي.
- د نتایجو مدیریت لخوا د(۱۲) ټولګیو د فارغ زده کوونکولپاره مربوطه ۸۰ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو ته ۳۸۰۰ سپین بري لیکونه/شهادتنامې ویشل شوي دي.
- د نتایجو مدیریت لخوا د ۱۱۹ بابه دولتي او ۳۳ بابه خصوصي ښوونځیو د فارغ زده کوونکو د نتایجو جدولونه تدقیق، تطبیق او تایید شوي دي.

### .۴ سرچینې او اداره

- د مالي او اداري آمریت اړوند (٦) تنه کارمندانوته د(BPET) سیستم په برخه کې روزنه ورکړل شوه.
- د بشري سرچینو مدیریت لخوا ټولټال (۸۰۰۰) تنو سوانح تدقیق، تصحیح او تطبیق شوي، او د (٦٨٩) تنو ښوونکو، مامورینو او مدیرانو سوانح بریښنایي شوې دي.

### .۵ دپوهني ریاست اړوند

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوندمحمدیه دارالعلوم ته (۲۳۷۵) جلده درسي کتابونه چاپ او وېشل شوي دي.

## 2. انډولیز لاسرسی

### 1. ښوونه او روزنه

- د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ټولو ولسوالیو کې ټولټال (۳۳۰۵۱) تنه نارینه او (۱۸۳۲۸) تنه ښځینه زده کوونکي، چې په مجموعي توګه (۵۱۳۷۹) تنه کېږي، جذب شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا د ښار او ولسوالیو مربوطه کورسونو کې ټولټال ۱۸۲۰ تنه زده کوونکي جذب شوي او په زده کړو بوخت دي.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند ۷۸ تنه نالوستي کسان د ملا امامانو د پروګرام له لارې جذب شوي دي.

### 2. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په ۱۹ ولسوالیو کې یوه یوه لیلیه رامنځته شوې، چې په هره لیلیه کې ۵۰ تنه طالب العلم جذب شوي دي، چې ټولټال ۹۵۰ تنه طالب العلم کېږي.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز او ټولو ولسوالیو کې ټولټال ۱۹۰ بابه کلیوالي مدرسې تأسیس شوي دي.

## 3. آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

### 1. ښوونه او روزنه

- د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ٦ ولسوالیو (میانشین، ریګستان، نېش، دامان، میوند، ارغنداب) کې د ۷۹ تنه ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه ترسره شوه.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز او نهه ولسوالیو کې د ۱٦۷ ښوونځیو شوراګانو له کارونو او د هغوی اغیزمنتوب څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند ښوونځیو کې ټولټال (۱٦۱۹۵۰) تنه زده کوونکي او (۲۰۴) ښوونځي د کولمو دچینجیو دله منځه وړلو (Albendazol Tab) ګولیو څخه برخمن سویدي .

### ۲. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت لخوا ټولټال (۹۱) تنه علماؤ سندونه په خامصه او عالیه درجو کې ارزول شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت لخوا څلور د قرانکریم سیالی په (فیضیه ، محمدیه،حسن بصری دارالحفاظ او حاکمیه مدارسو) کې ۸۱٦ تنو طالب العلمانو په ګډون په بیل بېل وختونو کې ترسره شوې.

### 3. سرچینې او اداره

- د بشري سرچینو مدیریت لخوا په مرکز کې 285 او په ولسوالیو کې (۴۵۰۴)خالي بستونه پیژندل شوي دي.
- د بشري سرچینو مدیریت لخوا د مرکز او ولسوالیو په کچه ۱۳۲۵۸ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي.
- د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه ټولټال ۳۹۴ تنه کارکوونکي او ښوونکي په شرایطو برابر تقاعد ته سوق پیژندل شوي دي.

- د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه (۴٦) تنو کارمندانو ته د هویت کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.
- د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په کچه (۹۸۸) تنه کارکوونکي، ۴۰۰۰ تنه مدرسین او ۲۹۴۸ تنه ښوونکي د تدریسي او اداري چارو د سمون په موخه گمارل شوي دي.

### ۴. ریاست اړوند فعالیتونه

- د پوهنې ریاست اړوند ټولټال (۷۵۰) تنه کارمندانو ته دمختصر نصاب په هکله تدریس شوی ده.
- د پوهنې ریاست اړوند ټولو ښوونځیو کې په غیري رسمي ډول 317 تنه مبلغین اماماان د کارمندانو د صورت، سیرت او لازمو توصیو په موخه ټاکل شویدي.

## ستونزې او حل لارې

- د پراختیایی او عادي بودیجې کمبود او نشتوالې؛
- د مسلکي کسانو کمبود او نشتوالې؛
- ورکشاپونو نشتوالې؛
- د ترانسپورت نشتوالی؛
- د ودانیو نشتوالې او ترمیمات؛

## دحل لارې

- کندهار ولایت د پوهنې ریاست ته د عادي او پراختیایي بودیجې د تخصیص زیاتوالی.
- د ښوونکو او کارکوونکو لپاره په اړوندو برخو کې د ضرورتونو په پام کې نیولو سره د ورکشاپونو جوړول.
- د پوهنې ریاست اړوند حوزو لپاره د ترانسپورت برابرول.
- د پوهنې ریاست په سطحه تعلیمي مرکزونو زیات شمیر ودانې د تخریب له امله دوباره ترمیماتو ته ضرورت لري، همداشان ځینې تعلیمي مرکزونه هیڅ سرپناه او تعمیر نلري یواځې تر شنه اسمان لاندې زده کوونکي زده کړې کوي د دي ستونزې د حل په موخه ورته بودیجه ورکړل شي.

**دویمه برخه**

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: په ګرمو او سړو ولایتونو کې د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کندهار ولایت په (۱۴) ولسوالیو (غورک، خاکریز، نیش، میانشین، ریګستان، شورابک، سپین بولدک، تخته پل، ارغستان، معروف، کښته میوند، پنجوایي، دامان او ژړي) کې د ټولټال ۴۳۴ بابه کلیوالو مدرسو د درې کلن ازمایښتي تطبیق بهیر د اړوندو ولسوالیو د پوهنې آمرینو او د پوهنې وزارت د استازو (هیئت) په همکارۍ بشپړ شوی دی.

**1.2 فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د سواد زده کړې کورسونو کې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ، د ښوونیزو موادو د پراختیا په موخه، د مرکز او ټولو ولسوالیو په کچه د انکشاف مسلکي غړو لخوا د ۸۴ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه څارنه ترسره شوې.

**1.3 فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکزي ټیم له خوا د کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند ټولټال ۷۹ تنو د انکشاف مسلکي غړو ته د ظرفیت لوړونې روزنه ورکړل شوې ده.

**1.4 فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د انکشاف مسلکي علمي غړو له لوري ۵۰ تنو ښوونکو او مدیرانو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې روزنه ورکړل شوې ده.

**1.5 فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیسټم د پلې کېدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.6 فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو لخوا په مرکز کې د ۴۸ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو څخه د لابراتوارونو د اړتیاوو د ارزونې په موخه سروې ترسره شوه.

**1.7 فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز ساینس د علمي غړو لخوا د مرکز او ولسوالیو په سطحه د ۳۵ بابه دولتي او خصوصي لیسو څخه د کمپیوټرونو د اغیزمنتوب او کارونې د ارزونې په موخه څارنه ترسره شوه. په دغه څارنه کې، د اړوند لیسو مسؤولینو ته اړینې سپارښتنې ورکړل شوې. د یادو ۳۵ بابه لیسو له جملې څخه ۲۹ بابه لیسې په مرکز کې موقعیت لري، پداسې حال کې چې پاتې شپږ لیسې په څلورو ولسوالیو (دامان، ارغنداب، ژړی او ډنډ) کې موقعیت لري.

**1.8 فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای  پورې، د پوهنې ریاست اړوند د مرکز ساینس مدیریت ۹ تنه علمي غړو ته او همدارنګه د ښار او (ارغستان، تخته پل، ژړي، بولدک، دامان، پنجوائی، ډنډ، ارغنداب او میوند) ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو د ښوونکو او مستحضرینو په ګډون ټولټال (۱۲۰) تنو ته د ریاضي، ساینس او کمپیوټر په برخو کې مسلکي روزنه ورکړل شوه.

**1.9 فعالیت: د پوهنې لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.10 فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.11 فعالیت: د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Deworming په برخه کې د څارندوي د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د ښاري آمریت ۱۲ بابه ښوونځیو او (۳) ولسوالیو (دامان، بولدک او ژړي) کې ټولټال (۲۲) تنه ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او (۲۲۵) تنه زده کوونکو ته د حفظ الصحې او اغیزمنې زده کړې تر عنوان لاندې د یونیسف او انکشاف مسلکي غړو لخوا ورکشاپونه دایر شوي دي.

**1.12 فعالیت: د څارني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.13 فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکز او ۱۰ ولسوالیو کې ۵۵ تنو ته د سواد زده کړې ۱۵ ورځنې سیمینارونه د پروګرامونو د ښه تطبیق او همدارنګه د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي کولو په موخه دایر شوي دي.

**1.14 فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت اړوند کورسونو لپاره د ۴۸۰۰۰ افغانیو په ارزښت (پنسل قلم، کتابچې، پنسل پاک، پنسل تراش او خط کشونه) د کندهار ولایت د اطاق تجارت ریاست څخه مرسته ترلاسه شوې ده.

**1.15 فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د ۱۸ ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت اړوند په (ښار، ژړي، پنجوائی، ارغستان، بولدک، شاولیکوټ، دامان، میوند، ډنډ، تخته پل، خاکریز، ارغنداب او ښورابک) ولسوالیو کې د سواد زده کړې کمیتو لخوا ۳۲۵ عامه پوهاوي پروګرامونه ترتیب شوي دي.

**1.16 فعالیت: دخصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د ښوونې او روزنې آمریت لخوا د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت په اړه د طرزالعمل او د رهبري کمیسون د نشتوالي له امله هیڅ اجراآت نه دي ترسره شوي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۲ بابه (د محمدیه او جوادیه) په نامه دیني مدرسو دارالعلوم ته د ارتقاء کولو په موخه پیشنهاد د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوي وو، خو یوازې جوادیه دیني مدرسه دارالعلوم ته ارتقاء شوې ده.

**2.2 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي علمي غړو له لوري د ۲ دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو څخه کتنه ترسره شوې ده. د دې څارنې په پایله کې دا څرګنده شوې چې یاد دارالعلومونه د اداري او تدریسي-قرطاسیې او معیاري تړوالګیو ته اړتیا لري.

**2.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونه د بودیجې د نشتون له امله ندي ترسره شوي.

**2.4 فعالیت: د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د ۱۸۰ بابه مدرسو او دارالحفاظونو څخه څارنه ترسره شوې ده، چې په پایله کې د یادو دارالحفاظونو او مدرسو ۳۶۰ مختلفې اړتیاوې مشخصې شوې دي.

**2.5 فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کې د مدرسو، دارالعلومونو او دارالحفاظونو څخه ټولټال ۱۴۳۷۲ تنه علماء کرام په موجوده ډیټابیس کې ثبت شوي دي.

**2.6 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه ورکشاپ د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**2.7 فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا ټولټال (۴۱۳۶) تنه فارغان په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبت شوي دي.

## ۳. د کېفیت تضمین

**3.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کېفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې لپاره (۱) درې ورځنی ورکشاپ د (۵) تنو لپاره د پوهنې وزارت له لوري د راغلي مسلکي کسانو په همکارۍ ترسره شوی دی.

**3.2 فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10٪ کتنه او تصدیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د کیفیت د تضمین آمریت اړوند د احصائې مدیریت لخوا د مرکز په شمول ۱۹ ولسوالیو د ښوونځیو آمریتونو څخه د احصائې فورمې راټولې شوې او تر چک وروسته تصدیق شوي دي. د فورمو ترلاسه کولو سره سم، د EMIS سیستم ته د فورمو یوه اندازه انټري شوې، او یواځې د (۳۳) بابه خصوصي ښوونځیو احصائوي فورمې پاتې دي چې د ترلاسه کولو سره سم به په سیستم کې انټري شي.

**3.3 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول اړین مواد د مربوطه څانگو څخه راټول او په خپل وخت د اړوندې مرجع ته استول شوي دي.

**3.4 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛"**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده څانگو څخه راټول شوي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.5 فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت اړوند د احصایې مدیریت د خپل پلان له مخې د (۱۰۲) بابه سرد سیرو ښوونځیو احصایوي معلومات راټول او په EMIS سیستم کې ثبت کړي دي. همدارنگه، د (۳۴۳) بابه گرمسیر ښوونځیو احصایوي معلومات په EMIS سیستم کې د ثبت پروسه روانه ده.

**3.6 فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت له لوري د ۹۲ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو د فارغ شویو زده‌کوونکو لپاره ټولټال (۹۶۷۱) شهادتنامې ترتیب، طی مراحل او وېشل شوې دي.

**3.7 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت له لوري د دولسم ټولګي د فارغ شویو زده‌کوونکو لپاره اړونده ۸۰ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو ته ټولټال ۸۳۰۰ سپین‌بري لیکونه (شهادت‌نامې) وېشل شوي دي.

**3.8 فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت له لوري د ۱۱۹ بابه دولتي او ۳۳ بابه خصوصي ښوونځیو د فارغ شویو زده‌کوونکو د نتایجو جدولونه تدقیق، تطبیق او تایید شوي دي.

**3.9 فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کندهار د پوهنې ریاست لپاره له مرکز څخه یو دوه کسیز پلاوی راغلی و. د دغه پلاوي هدف دا و چې د مرکزي هستې ټولو مدیریتونو د راپور مسؤلینو ته څلور ورځنی روزنیز ورکشاپ برابر کړي، څو هغوی وکولای شي میاشتني او ربعوار راپورونه د پالیسی، طرزالعمل، رهنمود او ټاکل شویو فورمټونو مطابق ترتیب کړي او په خپل وخت له مرکز سره شریک کړي. په یاد ورکشاپ کې ټولټال ۳۰ تنو ګډون کړی و.

**3.10 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت څخه یو پلاوی کندهار ولایت ته راغلی و، ترڅو د کندهار د پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د تطبیق بهیر وڅاري او د فعالیتونو د کیفیت ارزونه ترسره کړي.

**3.11 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د کندهار د پوهنې ریاست د ښاري ښوونځیو آمریت اړوند، د شهید عبدالطیف لیسې او کاکا سید احمد لیسې لپاره د (DARIO) خیریه بنسټ په مالي ملاتړ لاندې چارې بشپړې شوي دي: د ۳۰ کلکینانو جوړول، د ۱۶۳ هیندارو خریداري، د اوبو برمه کول او اړوند لوازمو برابرول، د ۴۵ پایي مېزونو او څوکیو ترمیم، او د دوه داني ۲۰۰۰ لیتره پلاستیکي ټانکیو خریداري او وېش. همدارنګه، د یونیسف په مالي ملاتړ د شپږو بابه دولتي ښوونځیو د ترمیماتو څخه څارنه ترسره شوې ده.

**3.12 فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د څارنې او ارزونې لپاره د راپور ورکولو سیستم له مرکز څخه تر اوسه نه دی فعال شوی.

**3.13 فعالیت: د ۱۴۰3 کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنۍ کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت یو پلاوی کندهار ولایت ته راغلی و، ترڅو د کندهار د پوهنې ریاست د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د کلني فعالیتونو ارزونه ترسره کړي.

**3.14 فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت یو تخنیکي ټیم کندهار ولایت ته راغلی و، ترڅو د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعال کړي او د تحلیل او توحید ګزارشاتو اړوندو غړو ته روزنه ورکړي، څو هغوی وکولای شي میاشتني راپورونه په ټاکلي وخت د راپور ورکولو آنلاین سیستم کې ثبت کړي.

**3.15 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت له لوري د پوهنې وزارت له خوا رالیږل شویو څانګړو فارمټونو پر بنسټ، د مربوطه برنامو او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو میاشتني راپورونه راټول شوي، او د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو په اړه څلور ربعوار راپورونه ترتیب او په خپل وخت د پوهنې وزارت سره شریک شوي دي.

**3.16 فعالیت: د تودو سیمو په اوو ولایتونو (قندیار، لغمان، ننګرهار، نیمروز، فراه، هلمند او کنړ) کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز له لوري د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي د پوهې د پرمختګ د ارزونې لپاره کوم پلاوی نه دی راغلی.

**3.17 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم ندی راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**3.18 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم ندی راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو په برخه کې کارکوونکو ته روزنه ورکړي.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴.1 فعالیت: د هیواد په ٦ ولایتونو (خوست، قندیار، بخدشان، غزنی، پنجشیر او جوزجان) کې د ښوونکو صندوق رامنځ ته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د لازم مالي بودیجې د نه شتون له امله تر سره شوی نه دی.

**۴.2 فعالیت: د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه ۱۲ ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لاربښوونه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د مالي او اداري آمریت د لګول شوې بودیجې د مصرف څرنګوالي څخه د پوهنې محترم وزارت د استازي پلاوي له لوري څارنه ترسره شوې ده.

**۴.3 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست د مالي او اداري آمریت اړوند شپږ (٦) تنه کارکوونکو ته د پوهنې وزارت له لوري د BPET سیستم په برخه کې تخصصي روزنه ورکړل شوې ده، ترڅو د یاد سیستم د مؤثرې کارونې ظرفیت ترلاسه کړي.

**۴,۴ فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړونې لپاره اړینه ستراتیژي له مرکز څخه نه ده رالیږل شوې.

**۴.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري د مجموعاً ۸۰۰۰ تنو سوانحو تدقیق، تصحیح او تطبیق ترسره شوی، او همدارنګه د ۶۸۹ تنو ښوونکو، مامورینو او مدیرانو سوانح بریښنایي شوې دي.

**4.6 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت له لوري د غورک ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د ویشتان او کېګک ابتدائیه ښوونځیو، د میوند ولسوالۍ د سنګبر ښوونځي، د میانشین ولسوالۍ د اسحق‌زای، کاکوزای او کاکړزای ښوونځیو، او د بولدک ولسوالۍ د سپینکي‌دامان ښوونځي لپاره ټولټال (۷) د ملکیت سندونه ترتیب او تنظیم شوي دي.

**4.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت له لوري د اړوندو حوزوي آمریتونو تعلیمي مرکزونو ته د ودانیو او احاطو د ثبت فورمې استول شوې، چې له مخې یې ټولټال (۳۲) د ودانیو ملکیتونه او (۳۶) د احاطو ملکیتونه ثبت شوي دي. همدارنګه د پوهنې ریاست اړوند (۳۶) ترمیماتي پروژې پلان شوې دي، چې په دغو پروژو کې د ودانیو او احاطوي دیوالونو مشخصات هم شامل دي. له یادو پروژو څخه (۷) بشپړ شوي او پاتې نورې یې تر کار لاندې دي.

**4.8 فعالیت: د پوهنې د دولتي ښوونځیو، مدرسو او اداري ځایونو د عقارو او زیربناوو د نمبر یو فورمونو جوړول او د مالیې وزارت د دولتي املاکو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت له لوري د پنجوایي او ارغستان ولسوالیو اړوند دوه بابه ښوونځي (حاجي کلون بابا او تنګ ابتدائیه) د نمبري فورمو له مخې ثبت شوي دي. همدارنګه، د همدې مدیریت له خوا د ښار جوړونې ریاست له لوري د پوهنې ریاست اړوند مدرسو او ښوونځیو لپاره (۸۹) ځایونه د ښوونځیو د ودانیو لپاره نښه شوي، چې که څه هم پر ځینو ځایونو د ودانیو جوړولو چارې پیل شوي، خو تر اوسه یادې ځمکې رسمي نه دي سپارل شوي.

**4.9 فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت له لوري د پوهنې ریاست په کچه د (۷) بابه ښوونځیو، لکه: ویشتان، کېګک ابتدائیه، سنک بر، اسحق زایي، کاکوزایي، کاکړ زایي او سپینکي دامان، ملکیت سندونه ثبت شوي دي. همدارنګه، د یاد مدیریت له خوا د پوهنې ریاست اړوند ټولټال (۹۵) بابه تعلیمي تاسیساتو ملکیت سجلونه هم بشپړ او ثبت شوي دي.

**4.10 فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت لخوا د ژړي ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د (۱) بابه مدرسې لپاره د زراعت ریاست لخوا (۴۹) جریبه سپینه ځمکه وقف شوې، خو تر اوسه د پوهنې ریاست ته رسماً سپارل شوې نه ده. همدارنګه، د پوهنې ریاست اړوند په (۸) ولسوالیو (دامان، ژړي، ارغنداب، پنجوائي، میوند، ډنډ، ارغستان او بولدک) کې د (۸) بابه ملکیتونو په اړه د یونیسف لخوا د احاطوي دیوالونو، تشنابونو او د اوبو څاه ګانو رغونې پروسه جریان لري. سربېره پر دې، دوه تعمیرات د ښاري ښوونځیو آمریت اړوند (سپین زیارت او میانکو) ښوونځیو کې د (UNHCR) موسسې لخوا بشپړ او د ګټې اخیستنې لپاره چمتو شوي دي.

**4.11 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت لخوا د ښوونکو د شارګوټي د غصب قضیه چې د عدلي ریاست د غصب کمیسون ته استول شوې وه، تر اوسه یې 80٪ څمکه د غصب څخه خلاصه کړې ده، او د پاتې 20٪ څمکې د غصب دوسیې پروسه جریان لري. همدارنګه، د پوهنې ریاست اړوند (۲۳) غصبي ملکیتونو قضیې تر دعوې لاندې دي.

**4.12 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو له پاره د سیستمونو رامنځ ته کول او پراختیا ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت لخوا شپږ سیستمونه فعال شوي دي چې په کې (**EMIS, HRMIS, CMIS, BPET, AFMIS, RMIS**) شامل دي او د دې سیستمونو څخه ګټه اخیستل کېږي. همدارنګه، دوه نور سیستمونه (**BAREED, PMIS**) تر کار لاندې دي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**5.1 فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د پوهنې ریاست له لوري د ټاکل شویو کسانو لخوا د امیرالمومنین فرمانونه او د پوهنې وزارت له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ ترلاسه کېدو او په کارونو کې د شفافیت په موخه اړوند ولسوالیو ته ۱۲ ځله سفرونه ترسره کړي.

**5.2 فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند د عامه پوهاوي په موخه ټولټال ۲۱۶۱ دعرفان، ۷۱۰ بخوان وبندیش مجلې او ۱۸۹۱ هفتنامې د نشراتو مدیریت لخوا اړوند ادارو ته ویشل شوي دي. خو د بودیجې د نشتوالي له امله بروشرونه او کلیزې ندي چاپ او وېشل شوي.

**5.3 فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، کندهار ولایت د پوهنې ریاست ته د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله کتابونه د نشراتو ریاست له لوري ندي رالیږل شوي.

**۵,۴ فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د (۱۰) بابه ښوونځیو کې د درسي کتابونو د وېشلو له پروسې څخه د پوهنې رئیس او نشراتو مدیر لخوا تخنیکي کتنه ترسره شوې.

**5.5 فعالیت: تر پوښښ لاندې ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د ۲۸۲۹۷۲ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند محمدیه دارالعلوم ته (۲۳۷۵) جلده درسي کتابونه چاپ او وېشل شوي دي.

**5.6 فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت پوهنې ریاست ته د نشراتو ریاست له لوري په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې کتابونه ندي رالیږل شوي.

**5.7 فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې د نشراتو ریاست له لوري د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه د کندهار پوهنې ریاست ته ندي رالیږل شوي.

**5.8 فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت ته د کتابونو دلیلام په هکله پیشنهاد سوېدي خو د پوهنې وزارت لخوا یې جواب ندي ترلاسه شوي.

**5.9 فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت د پلټنې ریاست له لوري ټیم نـدی راغلی ترڅـو د کندهار پلټنې مدیریت کارکونکو ته د پلټنې په برخه کې روزنه ورکړي.

**5.10 فعالیت: د اړوندي پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه کندهار ولایت ته ټیم نده راغلی.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تـولیزه موخـه:** پـه هېـواد کــې د ماشـومانو، ځوانـانو او لویـانو، نجونـو او ښـځو لپـاره کېفیـت لرونکـي او خونـدي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړوندي پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند، د ښوونځیو د ښوونکو لپاره د مسلکي پراختیـا پـه موخه پـه (۷) ولسـوالیو لکه (بولدک، خاکریز، نیش، ښورابک، غورک، ژړي او دامان) کې د پروګرامونـو د تطبیق پـه اړه د (۸۳) بابـه ښـوونځیو او مدرسـو څارنـه د پوهنې آمریتونو لخوا ترسره شوې ده.

**1.2 فعالیت: د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د عمومي زده کړو آمریت اړوند، په بولدک او کبنته میوند ولسوالیو کې (۵) پنځه بابه تړلي ښوونځي د زده کوونکو لپاره بیا پرانیستل شوي دي. چې په دې سره ښوونځیو ته د لاسرسي او زده کړو پراختیا لا ښه شوې ده.

**1.3 فعالیت: په دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو روزنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۱,۴ فعالیت: د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره د شریکولو په موخه د فارغنود شهرت او نتایجو جدولونو کتنه، تایید او سپارل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایې پورې، د عمومي زده کړو آمریت لخوا ټولټال ۴۱۴ بابه ښوونځیو د نـتایجو جـدولونو کتنـه، تاییـد او سـپارلو چـارې سرته رسیدلي دي.

**1.5 فعالیت: د فزیک، کېمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوتر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت لخوا د ښاري او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند (۱۵) لابراتوارونه او (۱) کمپیوټر لیب تجهیز شوي دي. همدارنګه، په (ډنډ او ارغستان) ولسوالیو کې دوه بابه ښوونځیو لپاره نوي لابراتوارونه رامنځته شوي دي.

**1.6 فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ټولو ولسوالیو کې ټولټال (۳۳۰۵۱) تنه نارینه او (۱۸۳۲۸) تنه ښځینه زده کوونکی چې جمله (۵۱۳۷۹) تنه کیږی جذب شویدي.

**1.7 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د دامان ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند یوباب (حضرت بلال)، بولدک ولسوالی کې (حبیب الله) او کبنته میوند ولسوالی کې (سنگ بر) په نامه ابتدائیه ښوونځي نوې تاسیس شوې دي.

**1.8 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ښوونځیو لوړېدنه د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او له منځنۍ دورې څخه د لیسې دورې ته د وضع شویو شرایطو د نه پوره کېدنې له امله نده ترسره شوې.

**1.9 فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د د**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بولدک پوهنې آمریت اړوند دوه بابه ابتدائیه ښوونځي چې د ښوونکو د نشتون له امله نه فعاله کیدل، د یادې ولسوالۍ د اتفاق په نامه کلي ته انتقال شول. د کښته میوند ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند دوه بابه ښوونځي هم لوړ میوند ولسوالۍ ته انتقال شوي دي.

**1.10 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د دامان، ډنډ، ارغستان، بولدک، پنجوائي، ارغنداب، شاولیکوټ ولسوالیو د پوهنې آمریت اړوند ۱۳ بابه ښوونځیو د احاطې دیوال، د اوبو څاه ګانې او ترمیمات د همکارو موسساتو لخوا جریان لري. د دې جملې څخه د ښاري ښوونځیو د پوهنې آمریت اړوند دوه بابه، میانکو او سپین زیارت ښوونځیو لپاره د تعمیراتو جوړېدنه ترسره او ګتې اخېستنې ته سپارل شوي دي.

**1.11 فعالیت: د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ارغنداب ولسوالی کې د ځانګړو اړتیا لرونکو ماشومانو لپاره یوباب ابتدائیه ښوونځي ته اړتیا لیدل شوې ده.

**1.12 فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت لخوا (۱۶۳) تنه زده کوونکي د مختلفو ولایاتو څخه او ټولټال (۵۲۹) مجاهدین په ښار او ولسوالیو کې لیسو ته معرفي شوي دي.

**1.13 فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکاری د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، دمرستندویه موسسو په همکارئ د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګي دهمکارو موسسو د بندیدو له امله ندي فعاله شوي.

**۱٫۱۴ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت د څارندوي مدیریت لخوا په (۲) ولسوالیو (ارغنداب او بولدک) کې ټولټال (٦) د څارندوي ټیمونه ایجاد شوي دي.

**1.15 فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا د ملي راډیو تلویزون دلارې یوځل او په ۷٦ بابه مساجدو او تکیه خانو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچول شوي دي. همداشان د عامه پوهاوي په موخه بروشرونه، اعلانات، صوتي او تصویر کلیپونه د بودیجې د نشتوالې له امله ندي چاپ او وېشل شوي.

**1.16 فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت په کچه یو باب د لوړ عمره ښځینه سواد حیاتي مرکز شتون لري چې د اسلامي امارت د پالیسي په اساس تر امرثاني پورې یې فعالیت بند شوی دی.

**1.17 فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا د ارغنداب ولسوالی په (۷) بابه ټولګیو کې ټولټال (۱۵) تنه راستنیدونکي نالوستي کسان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شوي دي.

**1.18 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا په ښار او ولسوالیو کې په (۸۴) بابه کورسونو کې (۲٦۱) تنه ښځینه او (۱۵۵۹) تنه نارینه چې ټولټال (۱۸۲۰) تنه زده کوونکي کیږي جذب شوي دي.

**1.19 فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا ټولټال (۷۸) تنه زده کوونکي د ملا امامانو د پروګرام له لاري جذب شوي دي.

**1.20 فعالیت: د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا په ښار او ولسوالیو کې (۹) تنه ښوونکي په رسمی تشکیل او ۷۵ تنه ښوونکې په قراردادي توګه چې ټولټال ۸۴ تنه کېږي دسواد زده کړې کورسونه یې رامینځته کړي دي.

**1.21 فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کې (۱۲) بابه نوي خصوصي ښوونځي او (۳) بابه کورسونه تاسیس، (۱۴) بابه ښوونځیو او (۱۷) بابه کورسونو جوازونه تمدید ،د ۹ بابه خصوصي ښوونځیو جوازونه نوي شوي دي او (۳) بابه خصوصي ښوونځیومنځنۍ دورې ته ارتقاء کړي ده.

**1.22 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ښاري خصوصي ښوونځیو آمریت اړوند د (۱۰) تنو درى کلني نمري تدقیق شوى دي ترڅو په بهر کي خپلو زده کړو ته دوام ورکړی.

**1.23 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کي ټولټال (۴۰) تنه نارینه زده کوونکې ښوونځیو او (۹) تنه زده کوونکي خصوصي کورسونو ته په فیس کی د تخفیف په موخه بیلابیلو خصوصي ښوونځیو او کورسونو ته معرفي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا (451) تعلیمي بنسټونه په مرکز او ولسوالیو کې تاسیس شوي دي چې جدول يي دراپور ضمیمه دي،همداشان د یاد آمریت اړوند نعمتیه مدرسه و (عصمتیه مدرسي ته) او الخدمت خصوصي دارالعلوم (وحکېم الامت خصوصي دارالعلوم ته) يې نومونو بدلون موندلې دی.

**2.2 فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند خصوصي مرکزونو د تاسیس، ډول بدلون، ارتقاء، تمدید، او دجواز او د بنې بدلون او همدارنګه د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې بدلون څخه کتنه او کنټرول دمسلکي کسانو،طرزالعمل او د بودیجې دنشتوالې له امله ندي ترسره سوي.

**2.3 فعالیت: د ۱۵۰۰۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ولسوالیو کې ۱٦۴ تنه په ۱۲ ټولګیو کې، (۱۷۷) تنه علماء په ۱۴ ټولګې کې او (۱۱۴۲) تنه حافظانو سویې دتثبیت چارې ترسره او لاهم جریان لري.

**۲,۴ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دارالعلومونو د اداري او تدریسي-لوازمو اړتیاوو بشپړول او تجهیزول د بودیجي د نشتوالې له امله ندي ترسره سوي.

**2.5 فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په 19 ولسوالیو کې یوه یوه لیلیه رامنځته شوي چې هره لیلیه کې 50 تنه طالب العلمان جذب شوي چې ټولټال 950 تنه طالب العلمان کېږي چې په یادو لیلیو کې جذب شوي دي.

**2.6 فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په (محمدیه) دارالعلومونوکې ټولټال (۱۹۰) تنه طالب العلمان جذب شوي دي د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دوره کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب د اختصاصي ازموینې دلارې ندي ترسره سوی.

**2.7 فعالیت: د ۷۷۰۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول او نیمه عالي دارالحفافظونو ته د ۳ بابه دارالحفاظونو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ټولټال (۵۱۲) بابه نارینه او (۴) بابه ښځینه مدارس او (۷) بابه دارالحفاظونه په مرکز او اړوندو ولسوالیو کې تأسیس شوي دي.

**2.8 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ۶۰۰ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ټولټال (۱۹۰) بابه کلیوالي مدرسي په(۱۹) ولسوالیو کې چې په هره ولسوالۍ کې (۱۰) بابه کېږي تاسیس شوي دي او کلیوالي دارالحفاظونه ندي تاسیس شوي.

**2.9 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ۱۶۰۰۰ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کې کلیوالي مدرسې د بودیجې د کمبود له امله ندي سمبال او تجهیز شوي.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مرکزي او ولسوالیومدارسو ته (۷۶۵) کوډونه انتقال شوي دي، خو د نویو تاسیس شویو ښوونځیو او اداري تشکیل ندي لیږدول شوي.

**3.2 فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مالي او اداري آمریت اړوند د بشري سرچینو مدیریت لخوا د ښوونځیو،ارتقاء (دلومړني څخه منځنې ته او د منځنې څخه لېسی ته ) د اړوند ادارو د غوښتنو د نشتوالې له امله صورت ندی نیولی.

**3.3 فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکېلاتي احصایو نهایې کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري تشکیلاتي احصائیه نهایي شوې ده او د منظورۍ په موخه د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل شوې ده.

**۳٫۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینومدیت لخوا د مرکز، ولایت او همدارنګه د مضمون په اساس د ښوونیزو مرکزونو د دندو دلایحو څخه بیا کتنه ترسره شویده.

**3.5 فعالیت: په ۱۰ ولایتونو ( کندهار، زابل، هرات، باغیس، بلخ، سمنگان، کندز، بغلان، ننگرهار او پکتیا ) کې د تشکېلاتو د کړنلارې سره سم د تشکېلاتو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د تشکیلاتو تطبیقات دپوهنې وزارت لخوا ترسره شوي دي.

**3.6 فعالیت: د برېښنايي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي ټیم ټاکل او لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتومدیریت لخوا ۷ ټیمونه د ( دجنسونو ثبت، دسامانونو لیږدول اودنورو خدماتي چارو) دثبت او څرنګوالي په موخه په مختلفو وختونو کې دضرورت سره سم استول شوي او لازم اجراآت ترسره شوي دي.

**3.7 فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت اړوند نیمه بشپړ شوې پروژې د بودیجې دنشتون له امله ندي بشپړ شوي.

**3.8 فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت د اسلامي امارت له بودیجې څخه کوم ساختمانونه ندي جوړ شوي، یوازې دهمکارو موسیسو (UNISEFاو UNHCR)له بودیجې څخه دوه بابه ملکېتونه چې دعربوقلعه ملکېت په سپین زیارت کې اعمار او میانکوه په نهمه ناحیه کې جوړ او ګټې اخستنې ته چمتو شویدي، او همدارنګه د (٦) بابه ښوونځیو اعمار همکارو موسساتو لخواجریان لري.

**3.9 فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت اړوند د اسلامي امارت دبودیجي څخه (۴۴) بابه ښوونځیو او مدرسو ترمیمات جریان لري او د (ګالو، MCاو SGOA) همکارو موسساتوپه مرسته د (۵۱) بابه ښوونځیو او مدارسو دپروژو ترمیمات پیل او جریان لري.

**3.10 فعالیت: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست په سطحه د املاکو مدیریت اړوند د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه دساختماني موادو ټول نرخونه په خپل وخت راټول او په اړه یې اجراآت تر سره شویدي.

**3.11 فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت اړوند د غورک ،میوند، میانشین اوبولدک ولسوالیو اړوند (۷) ښوونځیو لپاره د معارف پاله خلکو له لارې شخصي ځمکه وقف شوې او تدارک شویدی،چې ددې جملې څخه غورک ولسوالي(۲)، میانشین(۲) او میوند ولسوالی اړوند(۱) باب ملکیتونو اسناد معارف ریاست ته رالیږل شوي اوتسلیم شوي دي دپاته ملکیتونو په اړه به ترتسلیمي وروسته معلومات شریک شي.

**3.12 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست په سطحه د املاکو مدیریت اړوند (۲۳) غصبی قضیې لرو چې یواځې دښوونکو دښارګوټي دغصب شوي ملکیت دوسیې تعقیب شوي او اتیا سلنه ځمکه دغصب څخه خلاصه سوېده او دپاته 20% ځمکې دغصب څخه دخلاصون دوسیې جریان لري.

### ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۴.1 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند چې کوم مکتوبونه ترلاسه سوي، په خپل وخت سره اړوند ادارو ته دبعدي اجرااتو په موخه لیږل شوي دي ترڅو په اړه یې لازمې کړنې ترسره شي.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کېفیت لرونکې، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندې کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو اړوند په لرې پرتو او محرومو سیمو کې تولټال (۷۹) تنه ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه په ۶ ولسوالیو (میانشین، ریګستان، نېش، دامان، میوند، ښورابک او ارغنداب) کې د مسلکي کسانو لخوا څارنه ترسره شوې ده.

**1.2 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو موسسو د بندیدو له امله کوم هوکړه لیک ندی لاسلیک شوی.

**1.3 فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د کادري غړو علمي رتبې تر دامهاله بند دي.

**۱،۴ فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز او نهه ولسوالیو کې د ۲۱۱ ښوونځیو شوراګانو له کارونو او د هغوی اغیزمنتوب څخه څارنه ترسره شوې ده.

**1.5 فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ولسوالیو کې ټولټال ۴۰۰ بابه ښوونځیو څخه د اړوند حوزوي مسلکي غړو لخوا حمایوي څارنه ترسره شوې همداشان سیمه ئیزو، چټکو زده کړو ټولګي بند دي.

**1.6 فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ٦٩١٥٦ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ولسوالیو کې ټولټال ۱۶۹۶ تنه ښوونکي، ۳۰۰ سرښوونکي، ۳۵۵ مدیران، او سواد زده کړې دکورسونو اړوند ۵۳ تنه ښوونکو روزنیزې اړتیاوي داړوند حوزوی انکشاف مسلکي غړو لخوا په ډاګه شوي او روزنې ته یی په اړونده برخه کې ضرورت لیدل شوی.

**1.7 فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا په میاشتني ډول سره خپل دکړنو راپور توحید، تحلیل او اړوند مرجع ته وړاندې کوي.

**1.8 فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند تعلیمی حوزو کې د همکارو موسساتو د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح څخه نمونوي څارنه د موسساتو د بندیدو او نشتوالې له امله ندی ترسره شوې.

**1.9 فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کابل ښار او ولایتونو کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند ارغنداب ولسوالی کې یو باب ښځینه ښوونځي ته اړتیا لیدل شوې چې د ښځینه ښوونځیو د نشتوالي له امله د انجونو په وړاندي یوه ستونزه بلل شوې.

**1.10 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته ټولټال(10) تنو زده کوونکو مراجعه کړې چې په بهر کې خپل زده کړو ته دوام ورکړي او همدارنګه (۲۳۸) تعلیمی سوابق ښار آمریت او ولسوالیو ته لیږدول شوي دي.

**1.11 فعالیت: د سیمه اییزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د عمومي زده کړو آمریت اړوند تعلیمی حوزو کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګي د امیر المومنین حفظه الله تعالی د فرمان په اساس د موسساتو د بندیدو او نشتوالې له امله د زده کوونکو احصائیه ندی لېږدول شوې.

**1.12فعالیت: په بیړنۍ حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت د معلوماتو له مخې، له بهره راستنېدلي ۲۳۰ تنه زده‌کوونکي ښاري او ولسوالیو اړوند ښوونځیو ته معرفي شوي، داخلي بې‌ځایه شوي زده‌کوونکي شتون نه لري، خو په ۹ ولسوالیو کې ټولټال ٦۱ بابه ښوونځي د ودانۍ د

نشتوالي له امله په بيرني حالت کې قرار لري؛ دغه ښوونځي په لاندې ډول دي: ښورابک (۵) بابه، ريگستان (۷) بابه، غورک (۱) باب، ميانشين (۴) بابه، خاکريز (۵) بابه، ژړی (۶) بابه، ارغستان (۱۲) بابه، ارغنداب (۱) باب او معروف (۲۰) بابه، چې څينې يې زده‌کوونکو ته په خيمو کې درسي خدمات وړاندې کوي. همداراز، د بندو ښوونځيو له امله په ولسواليو کې شاوخوا ۴۰۷۷ تنه زده‌کوونکي له زده‌کړې بې‌برخې پاتې دي.

**1.13 فعاليت: د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) او د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځيو کې د کولمو د چينجيو د له منځه وړلو ټوليز کمپاين ترسره کول او د الېندازول د ټابليټونو ويشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه، د روغتيا د مديريت لخوا د ښار او ولسواليو په ۲۰۴ ښوونځيو کې ۱۶۱۹۵۰ تنه زده کوونکو ته د کولمو دچينجيو دله منځه وړلو (Albendazol Tab) ګولۍ توزيع شويدي.

**1.14 فعاليت: د کابل ښار پوهنې رياست په ګډون په ټولو ولايتونو کې د څارندوی ټيمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبليغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز کندهار ښار او ټولو ولسواليوکې د څارندوی ټيمونو له لارې د مخدره موادو په پر وړاندې د مبارزې ۸۴ تبليغات ترسره شوي دي.

**1.15 فعاليت: د وړتياوو د معلومولو او ملي او نړيوالو سياليو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سياليو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، ياد فعاليت د بوديجې د نشتون له امله نه ده ترسره شوی.

**1.16 فعاليت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولايت او د ولسواليو په کچه د سواد د کميټو غونډو دايرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مديريت لخوا په ټولو ولسواليوکې ټولټال ۴۰ کميټې د سواد زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ په موخه جوړې شوي دي.

**1.17 فعاليت: د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو د امتياز دليږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدير ته اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولايت پوهنې رياست دعمومي زده کړو آمريت اړوند تعليمي حوزو کې د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو دځای بدلون او ځای ناستې او مدير ته اعتبار په موخه کوم خصوصی ښوونځي او کورس مراجعه نده کړې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعاليت: د علماو کرامو د عاليه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو ډيپلوماتيک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند دښار او ولسواليو د تعليمی مرکزونو د علماوو سندونه (۵۳) تنه په خامسه او (۳۸) تنه په عاليه درجو کې ارزول سوي او ثبت سوېدي.

**2.2 فعاليت: د مرکز او ولايتونو په کچه د مسلکي پراختيا غړو له فعاليتونو څارنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د مسلکي پراختيا غړو له فعاليتونوڅخه څارنه او کنترول د مسلکي کسانو د نشتون له امله نده ترسره شوې.

**2.3 فعاليت: په دارالعلومونو کې د نويو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په ښار او ولسوالیو پـه دارالعلومونـوکې د نویـو علمـي کـادري اسـتادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړولو په برخه کې کوم اجراآت ندي ترسره سوي.

**۲,۴ فعالیت: له ۳۰۷٦۹ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۳۰۷٦۹ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دمشترکو ازموینو په اړه کوم اجراآت ندي ترسره سوي.

**2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا څلور د قرانکریم سیالۍ په (فیضیه ، محمدیه،حسن بصری دارالحفاظ او حاکمیه مدارسو) کې دټولټال (۸۱٦) تنو په ګډون سره په بیل بېل وختونو کې ترسره شوي دي.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بشري سرچینو د راجسټریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول (د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو د راجسټریشن په سیستم کې د مرکزپه کچه ټولټال ۵۹۱ خالي بستونه او د ولسوالیو پـه کچـه ۵۵٦۱ خالي بستونه پیژندل شوي دي.

**3.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجسټریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د مرکز او ولسوالیو په کچه ټولټـال۱۳۳۱۸ تنـه کـارکوونکي ثبـت او راجسـتر شویدي.

**3.3 فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت دمرکـز او ولسـوالیوپه کچـه (۲۸) تنـه ښـوونکو او (۱۰) تنـه مـامورینو دتبـدیلیو او (۲۴۱۲) تشو بستونو په اړه معلومات داستخدام ریاست سره شریک شوي دي.

**۳,۴ فعالیت: د ۲۵۰۰۰ هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه (۴٦) تنو کارمندانو لپاره دکارتونو فورمې د پوهنې محترم وزارت ته استول شوي او داپروسه جریان لري.

**3.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په کچه ۱۰۸۹ تنه کارکوونکي، ۴۵۹۵ تنه مدرسین او ۲۹۴۸ ښوونکي د تدریسي او اداري چارو دسمون په موخه ګمارل شوي دي.

**3.6 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو (د بست او قدم لوړول) بیاکتل او د پراوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه (۱۰۳) تنه ښوونکو لوړ قدم ته ارتقاء،(۵) تنه ښوونکو بست لوړېدنه او (۵) تنه کارکوونکو بستونه لوړ شوي چې ټولټال(۱۱۳) تنه کېږی.

**3.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه ټولټال 410 تنه کارکوونکي او ښوونکي په شرایطو برابر کسان تقاعد ته سوق پیژندل شوي دي.

**3.8 فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له ولایتونو څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، ۱۲ میاشتني راپورونه، ۴ ربعوار راپورونه او همدارنگه ۱ کلنی راپور ترلاسه شوی دی چې خوشبختانه تر اوسه کومه امنیتي پیښه نده رامنځته شوې.

**3.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توگه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتو مدیریت لخوا د کتابونو، اداري او مطبوع قرطاسیي د انتقال لپاره یو باروړونکې کماز ډوله موټر اړوند مراکزو ته داجناسو دانتقال په موخه توظیف شوی ده.

**3.10 فعالیت: د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتونو ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتو مدیریت له لوري د کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند مرکز او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د خپل سهم په اندازه مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه توزیع شوې ده.

**3.11 فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۴۴۰۰۰ پایې میزونو او څوکېو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، دخدماتو مدیریت لخوا بودیجې د نشتوالې له امله میزونه او چوکۍ نه دي ترمیم سوي.

**3.12 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د ۵۹ نه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په (٦) ولسوالیو کې ټولټال (۱۳) نیمه کاره او نابشپړ شوي پروژې لرو چې دنظام دبدلون له مله یې کارونه دریدلي او تراوسه ندي پیل شوي.

**3.13 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت لهخوا د مرکز او ولسوالیو په کچه د (٦) بابه بنسټیزو او (۱۱) ترمیماتي پروژو د تطبیق بهیر له جملې څخه په (گرېوال، ریگي کلاچه، بیلو کلاچه، شوین علیا، ریگوا او صلوات، خواجه ملک، ویاند، شهید عظیمالله، محمود طرزي، محمد عظم ایازی، غازي امانالله خان، حاجي محمد، میربازار، زریفي مینه، پوپل نیکه، عاشقه، اول کمپ، لسم کمپ او کجور) ښوونځیو کې د (UNHCR) او نورو همکارو موسسو په مالي همکاری ترسره شوي، چې د تطبیق له بهیر څخه یې په بیلابیلو وختونو کې څارنه شوې ده.

**۳,۱۴ فعالیت: د ځمکو د انتقال په موخه د ۸ پروتوکولونو لاسلیک کول او د زراعت له محترم وزارت او ښاروالیو څخه د ۱۰۵۰ جریبه ځمکو غوښتل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت لخوا د زراعت ریاست سره د ځمکي دغوښتني یو پروتوکول لاسلیک شوی چې له مخې یې (۴۹) جریبه ځمکه د تعلیمی مراکزو د ودانیو دجوړېدنې په موخه د یاد ریاست څخه غوښتل شویده.

**3.15 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د تدارکاتومدیریت لخوا کانتینونه د طرزالعمل دنشتون له امله ندي ورکړل شوي او همدارنګه ۱۷ بابه ودانی په کرایه نیول شوي دي.

**3.16 فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د املاکو مدیریت لخو د۸۴ بابه ښوونځیو او مدارسو د ترمیماتي پروژو براوردونه شوي او کاریي جریان لري.

## ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور):

**۴,۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت سره د ۱۰ دریم او څلورم بستونو په اړه لازمه همغږي شوې ده.

**۴.2 فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست لخوا د همکارو موسسو او نورو غیري دولتي ادارو سره کومه تفاهمنامه/هوکړه لیک د موسساتو د بندیدو له امله ندي لاسلیک سوي.

**۴,۳ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند اجرائیه مدیریت ته ټولټال ۵۱۱۷ متحدالمال او متفرقه مکتوبونه راغلي او تعقیب شوي، همدارنګه ۱۵۹۷ مکتوبونه د نورو ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه ترلاسه شوي، ۲ طرزالعملونه، ۱۱ مصوبې، ۲ فرمانونه او ۱۵ حکمونه رسېدلي چې د اړوندو ادارو د اجراآتو لپاره په خپل وخت استول شوي دي.

**۴,۴ فعالیت: د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو راپوروںو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت مقام له خوا (۷) سفرونه د کندهار ولایت د پوهنې ریاست ته د نصاب د کتنې او د بستونو د ثبت نام د پروسې د څارنې په موخه ترسره شوي، همدارنګه د پوهنې ریاست اړوند (۱۰) ولسوالیو ته د ۶۷ تنو کارمندانو د خدمتي ورځو اسناد طی مراحل شوي دي.

**۴.5 فعالیت: د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړوندي مرجعو ته یې استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د معینیتونو او مرکزي ریاستونو څخه ټولټال (۶۲۵۷) مکتوبونه ترلاسه شوي چې د کارپوه له لوري تر هر اړخیزې کتنې وروسته مربوطو ادارو ته د اجراآتو لپاره استول شوي، همدارنگه دفتر ریاست ته ټولټال (۱۳۳۷) سندونه راجع شوي چې اړوند اجراات پرې ترسره شوي دي.

**۴.6 فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروگرامونو تنظمیول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، کندهار ولایت د پوهنې ریاست ته د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړ او تقویتي پروگرامونو د تنظیم په موخه یو مکتوب ترلاسه شوی چې اړوند ادارې ته د اجرااتو لپاره استول شوی دی.

**۴.7 فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت د پوهنې ریاست اړوند د دفتري چارو د سمون او د واحدونو ترمنځ د همغږۍ د پیاوړتیا په موخه څارنه شوې او د رهبرۍ له لوري ځانګړې ۱۸ لارښوونې ابلاغ او تکثیر شوې دي، همدارنګه د دفتري کارونو د منظم تنظیم په موخه پرله‌پسې څارنې ترسره شوي دي.

**۴.8 فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان د تحلیل، انسجام او توحید چارې بشپړې شوې، او د پلان له تایید وروسته یې اړوند برنامو او ولسوالیو ته په رسمي توګه استول ترسره شوي دي.

**۴.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د ۱۴۰۳ کال لومړی عملیاتي پلان د تحلیل، انسجام او توحید چارې ترسره شوې، او یاد پلان په رسمي ډول اړوند ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته استول شوی دی.

**۴.10 فعالیت: په مرکزي او ولایتي کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند د پلان مدیریت لخوا د پوهنې ریاست لپاره (۱۱) کانسپتونه جوړ شوي او د پوهنې جلیله وزارت مقام ته استول شوي دي.

**۴.11 فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه،کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند د پنځه کلن ملي پلان د مشورې او نظرغوښتنې په موخه د اړوند برنامو او ولسوالیو سره شریک شوي دي.

**۴.12 فعالیت: دمرکزي او ولایتي ریسانو او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کندهار ولایت پوهنې ریاست د پلان مدیریت لخوا د پوهنې وزارت څخه ترلاسه شوي کلنې، میاشتنې او ربعوار فارمتونه تر تحلیل او انسجام وروسته اړوند برنامو او (۲۵) اداري واحدونو ته رسماً استول شوي دي.

**4.13 فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې مرکزي او ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د مرکز څخه ټیم راغلی چې د کندهار ولایت د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه یې پلټنه ترسره کړه.

**۴.14 فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي څانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند دپلټنې مدیریت لخوا د(۲۸) څانګړو قضیو پـه اړه لازم اجـراات تـرسره کـړي چې دیادو قضیو معلومات د پوهنې وزارت محترم مقام سره شریک شوي دي.

**۴.15 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند ټولټال(۷۵۰) تنه کارمندانو ته دمختصر نصاب په هکله تدریس شـوي، خـو ازموینه یې ندي اخیستل سوي.

**۴.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د کندهار ولایت پوهنې ریاست اړوند۳۱۷ کارمندانو ته توصیه شوې، چې ټول کارمندانو خپـل صـورت او سـیرت اصلاح او د اسلامی امارت دپالیسي پر بنسټ داولوالامر اطاعت کړی.

**4.17 فعالیت: د معینیتونو، ریاستونو او کارکوونکو سره د غونډو ترسره کول او د ولایتونو او جانبي ادارو په کچه د امام مبلغ استازو معرفي کول؛**

د۱۴۰۳ مالي کال ترپایه د پوهنې ریاست اړوند ټولو ښوونځیو کې په غیري رسمي ډول 317 تنـه مبلغـین امامـان د کارمنـدانو د صـورت او سیرت او لازمو توصیو په موخه ټاکل شویدي.

## دریمه برخه

### د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- په دې برخه کې اجراآت ندي ترسره شوي.

## څلورمه برخه

## تحلیل او پایلې

| شمیره | فعالیتونه | شاخص | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوي | د فعالیت حالت: تر کار لاندې | د فعالیت حالت: نا پیل شوي | د فعالیت حالت: ځنډول شوي | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو | | | | | | | | | | | |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | په ګرمو او سړو ولایتونو کې د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق؛ | ترپوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق خځه داډ ترلاسه شوی دی | |
| 1.2 | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړو د څارل شوو کورسونو شمېر | 7 | 84 | ۱۰۰٪ | √ | | | | دپوهنې ریاست اړوند دسواد زده کړې کورسونه دانکشاف مسلکی غړو لخوا څارل شوي دي | |
| 1.3 | د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | 21 | ۷۹ | ۱۰۰٪ | | √ | | | د علمي غړو ظرفیت لوړ شوی دی | |
| | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | 152 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱،۴ | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 173 | ۵۰ | ۲۹٪ | | √ | | | | |
| 1.5 | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلې کېدو په موخه لازم چمتوالي؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفي کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | 173 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.6 | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوموللپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | 1 | ۱ | 100% | √ | | | | د لابر اتوارونو په برخه کې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته او لازمي سپارښتنې ورته وشوې | |
| 1.7 | د لابراتوارونو او کمپیوترونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | 1 | ۱ | 100% | √ | | | | لازمي سپارښتنې ورته وشوې | |
| 1.8 | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوتر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 9 | ۹ | ۱۰۰٪ | √ | | | | له روزنې څخه وروسته د یادو کسانو ظرفیت لوړ شوی دی | |
| | | د ښوونځیو په کچه د روزل شوو لابرانټ ښوونکو شمېر | 150 | 120 | 80% | | √ | | | | |
| 1.9 | د پوهنې لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شوو نارینه ښوونکو شمېر | 50 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | یاد روزنیز ورکشاپ دبودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| | | د روزل شووښځینه ښوونکو شمېر | 15 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | |
| 1.10 | د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛ | د له زده کړو څخه د برخمن شویو زده کوونکو شمېر | 441 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | یاد روزنیز ورکشاپ دبودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| | | له زده کړو څخه د برخمن شویو ښوونکو شمېر | 250 | 0 | ٪0 | | | √ | | | |
| | | له زده کړو څخه د برخمن شویو اداري غړو شمېر | 99 | 0 | ٪0 | | | √ | | | |
| 1.11 | د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Deworming په برخه کې د څارونديي د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | | √ | | | | |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | 15 | 0 | ٪0 | | | √ | | | یاد روزنیز ورکشاپ دبودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | 4 | 0 | ٪0 | | | √ | | | یاد روزنیز وزکشاپ دبودیجې د نشتون له امله ندي ترسره شوي |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | 65 | ۲۲ | ۳۹٪ | | √ | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونکو او ښوونکو شمېر | 1,100 | ۲۲۵ | ۲۰٪ | | √ | | | | |
| 1.12 | د ځانګړو اړتیاوو لرونکو زده کوونکو لپاره د ښوونځیو د بیا رغونې، برابرولو او د تخصصي ښوونې د پروګرامونو له لارې د کیفیت لرونکې او لاسرسي وړ زده کړو برابرول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 0 | ٪0 | | | √ | | | د مسلکي کسانو دنشتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی |
| 1.13 | د مرکز په کچه د سواد زده کړې د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | 2 | ۵۵ | 100% | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شویدی | |
| 1,۱۴ | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | 18 | ۱ | ٦٪ | | √ | | | | |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغانی) | 14000 | ۴۸۰۰۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.15 | د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د ۱۸ ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛ | د سواد کمېټو د ترسره شویو غونډو شمېر | 85 | ۳۲۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شویده | |
| 1.16 | د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول. | تعداد مکاتب که درجه بندي شده است | 40 | 0 | ٪0 | | | √ | | | د طرزالعمل او د رهبري دکمیسون دنشتوالي له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی |
| ۲. اسلامي زده کړې | | | | | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2.1 | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | 1 | ۲ | 100% | √ | | | | داسلامی زده کړو آمریت اړوند جوادیه دینی مدریی ارتقاء کړې ده | |
| 2.2 | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د ښیا کتنې او ارتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | ۲ | ۱٪ | | √ | | | | |
| | | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | 57 | ۲ | ۴٪ | | √ | | | | |
| 2.3 | په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښووني سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | 1 | 0 | ٪0 | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې دنشتون له امله نده ترسره شوی |
| ۲,۴ | د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | ۳۶۰ | ۱۰۰٪ | | √ | | | د یادو مدرسو او دارالحفاظونو  اداري او تدریسي کارونو څخه څارنه ترسره شوې ده | |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | 57 | ۱۸۰ | ۱۰۰٪ | | √ | | | | |
| 2.5 | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | 516 | ۱۴۳۷۲ | 100٪ | √ | | | | | |
| 2.6 | په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | 54 | 0 | ٪0 | | | √ | | | یاد فعالیت دبودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| 2.7 | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | 57 | ۴۱۳۶ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۳. د کیفیت تضمین | | | | | | | | | | | |
| 3.1 | د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړوني ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | 23 | ۱ | ۴٪ | | √ | | | | |
| 3.2 | د هیواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10% کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | 1 | ۱ | 100% | √ | | | | ولسوالیو احصائیوي فورمې لیږل شوي او EMISسیستم ته انتری شویدي | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.3 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | | |
| 3.4 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | 420 | ۱ | ۱٪ | | √ | | | | |
| 3.5 | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 420 | 102 | 24% | | √ | | | | |
| 3.6 | د برې لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو برې لیکونو شمېر | 3643 | ۹۶۷۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | زده کوونکي به د خپلو حقوقو څخه برخمن شي | |
| 3.7 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو برې لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو برې لیکونو شمېر | 7000 | ۸۳۰۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | زده کوونکي به د خپلو حقوقو څخه برخمن شي | |
| 3.8 | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛ | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 77 | ۱۱۹ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د خصوصي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 21 | ۳۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.9 | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | 14 | ۳۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د کارکوونکو ظرفیت لوړ شوی ده | |
| 3.10 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعوار څارنه؛ | د ولایتونو د څارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د یادې څارنې په ترڅ کې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته او د پلانونو د ښه تطبیق په موخه لازمې سپارښتنې ورته وشوې | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.11 | د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | 1 | 1 | 100% | | √ | | | دDARIO خیره بنست لخوا ددوه پروژو دچارو څخه نظارت او کتنه شویده | |
| 3.12 | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | د ولایتونو شمېر چې راپورونه یې د استفادې وړ گرځېدلي | ۱ | 0 | ٪0 | | | √ | | | له مرکز څخه ټیم نده راغلی |
| 3.13 | د ۱۴۰3 کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛ | د ارزول شویو ولایتونو د پوهنې ریاستونو شمېر | 1 | 0 | ٪0 | | | √ | | | له مرکز څخه ټیم نده راغلی |
| 3.14 | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.15 | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | 4 | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.16 | د تودو سیمو په اوو ولایتونو (قندیار، لغمان، ننگرهار، نیمروز، فراه، هلمند او کنړ) کې د شپږم ټولگي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛ | د پرمختګ سلنه | ۱ | 0 | ٪0 | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم نده راغلی |
| 3.17 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | ۱۰۰٪ | 0 | ٪0 | | | √ | | | د وزارت څخه ټیم ندي راغلی ترڅو تجربوي تطبیق ترسره کړي |
| 3.18 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل اوظرفیت لوړونه. | د تطبیق شویو روزنیزو پروگرامونو سلنه | ۱۰۰٪ | 0 | ٪0 | | | √ | | | د وزارت څخه ټیم ندي راغلی ترڅو کارکوونکو ته روزنه ورکړي |
| | | | | | ۴. سرچیني او اداره | | | | | | |
| ۴,۱ | د هیواد په ٦ ولایتونو (خوست، قندیار، | تر پوښښ لاندې ولایتونو | 1 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت دبودیجې دنشتون له امله |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | بخدشان، غزنی، پنجشیر او جوزجان) کې د ښوونکو صندوق رامنځ ته کول؛ | شمېر | | | | | | | | | نده ترسره شوی |
| ۴,۲ | د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه خارنه او همدارنګه ۱۲ ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛ | د آتشو او تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | ١ | 100٪ | √ | | | | د پوهنې ریاست په کچه د لګول شوې بودیجې څخه په مکمل ډول څارنه شویدې | |
| 4.3 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمېر | 5 | 6 | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| ۴,۴ | د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | 0 | ٪0 | | | √ | | | د طرحې دنشتون له امله یاد فعالیت نده ترسره شوی |
| 4.5 | د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | ١٠٠٪ | 100٪ | √ | | | | | |
| 4.6 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | 20 | 7 | 35% | | √ | | | | |
| 4.7 | د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | 35 | 32 | 91% | | √ | | | | |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوې سجل شویو دیوالونو شمېر | 15 | 36 | 100% | √ | | | | | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 8 | ٣٦ | 100% | √ | | | | | |
| 4.8 | د پوهنې د دولتي ښوونځیو، مدرسو او اداري ځایونو د عقارو او زیربناوو د | د نمبر یو ترتیب شویو فورمونو شمېر | 50 | 2 | 4% | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نمبر یو فورمونو جوړول او د مالیې وزارت د دولتي املاکو ریاست ته استول؛ | د دولتي زیربناوو او عقاري د ترتیب شویو فورمو شمېر | 70 | 89 | 100% | √ | | | | | |
| ۴.9 | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | 20 | 7 | 35% | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | 52 | ۹۵ | 100% | √ | | | | | |
| ۴.10 | د هغو سپينو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛ | په جریب سپینې تثبیت شوي ځمکې | 200 | 49 | 24% | | √ | | | | |
| | | د جوړو شویو ودانیو شمېر | 89 | 8 | 8% | | √ | | | | |
| ۴.11 | د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولو او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛ | د کتل شویو قضیو شمېر | 17 | 1 | 5% | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو غصبي او دعوایي اسنادو او دوسیو شمېر | 22 | 23 | 100٪ | √ | | | | | |
| ۴.12 | د مرکزي او ولایتي ریاستونو له پآره د سیستمونو رامنځ ته کول او پراختیا ورکول؛ | په ولایتي کچه د پراختیا ورکړل شویو سیستمونو شمېر | 1 | 6 | 100% | √ | | | | | |
| ۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور) | | | | | | | | | | | |
| 5.1 | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د داد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | 1 | 1 | ۱۰۰٪ | √ | | | | په کارونو کې دشفافیت او له حکمونو او لارښونو څخه دډاډ په موخه سفرونه شوي دي | |
| 5.2 | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د ویشل شویو مجلو شمېر | 1000 | ۲۱۶۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بیندیش د ویشل شویو مجلو شمېر | 1000 | ۷۱۰ | ۷۱٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | په ولايتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | 2000 | ۱۸۹۱ | ۹۵٪ | | √ | | | | |
| | | په ولايتي کچه د وېشل شوي کليزې شمېر | 50 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د بودیجې دنشتون له امله یاد شاخصونه ندي ترسره شوي |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | 200 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| 5.3 | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | 50 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د پوهنې د یو کلنې کړنې په هکله کتابونه د نشراتو ریاست له لوري ندي را لیرل شوي |
| 5.4 | د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 5.5 | تر پوښښ لاندې ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو ) د ۲۸۲۹۷۲ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویشل؛ | دارالعلومونو ته د وېشل شویو کتابونو شمېر | 2373 | 2375 | 100٪ | √ | | | | داسلامي زده کړو آمریت اړوندیو دارالعلوم ته کتابونه وېشل شوي دي. | |
| 5.6 | د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 6,700 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.7 | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 1,854 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.8 | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لوري د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | دکتابونو دلیلام په هکله دپوهنې وزارت ته پیشنهاد د سوی خو جواب یې ندي ترلاسه سوی |
| 5.9 | د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | 5 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم نده راغلی |
| 5.10 | د اړوندې پروګرامونو د رسولو په موخه | د پلان شویو سفرونو شمېر | 2 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم نده راغلی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | | | | | | | | | | |
| **دویمه برخه: انډولیز لاسرسی** | | | | | | | | | | | |
| **۱. ښوونه او روزنه** | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړوندي پروګرامونو د تطبیق له خرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | ۱ | 100٪ | √ | | | | | |
| 1.2 | د ولایتونو په کچه د ترل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | 120 | ۵ | ۴٪ | | √ | | | زده کوونکي به دتعلیم له لوی نعمت څخه برخمن شي | |
| 1.3 | په دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو روزنه؛ | د روزل شوو ښوونکو شمېر | 555 | 0 | ٪0 | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نده ترسره شوی |
| 1.4 | د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره د شریکولو په موخه د فارغانو شهرت او نتایجو جدولونو کتنه، تایید او سپارل؛ | د کتل شوو جدولونو شمېر | 33 | ۴۱۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.5 | د فزیک، کېمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | تعداد لابراتوارهای د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | ۱۵ | 100% | √ | | | | | |
| | | د تجهیز شوو کمپیوټرلب شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | | |
| 1.6 | په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 19207 | ۳۳۰۵۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | زده کوونکي به دتعلیم له لوی نعمت څخه برخمن شي | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 7606 | ۱۸۳۲۸ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| .17 | د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښووونځیو شمېر | 11 | ۳ | ۲۷٪ | | √ | | | دداماد ولسوالي اړوند دحضرت بلال په نامه تاسیس شوي ده. | |
| .18 | په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږی پر بنسټ د منځني دوري ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لیسي ښوونځیو ته د منځنیو ښووونځیو لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 2 | 0 | ٪0 | | | √ | | | شرایط یی ندي پوره کړي |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | ٪0 | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
